پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۳/۱۱/۰۱

# هغه خطرونه چې د ځمکې پرمخ ژوند تهدیدوی

(دویمه برخه)

یادوونه: په لومړی برخه کې دهغو ژوند تهدیدونکو خطرونو د بیلابیلو ځانګړتیاوو ځرګندونې وشوې چې د ځمکې د تل نه د اورپاشنې سره تړاو لری. که مو لوستې نه وی، د همدغې ویبپاڼې په ارشیف کې یې موندلای شئ.

## ۲ ـ د زلزلې خطرونه او د منځته راتلو لاملونه یې:

د زلزلو پیښیده بیلابیل لاملونه درلودلای شی. اکثره زلزلې د دوو لاندې لاملونو له کبله منځته راځی:

**الف ـ** کله چې د ځمکې په دننه کې مګمایی مواد د تودوخې په لوړه درجه ویلې، نابیره د یوی سوری د لاری د ځمکې مخ ته لاره پیدا او اورونه وپاشی. زلزلې کیدلای شی ددی کار سره سم او یا تر هغه لږ څه وروسته منځته راشی.

**ب ـ** دځمکې په دننه کې دخارجی قشر لاندنی طبقې معمولا د حرکت په حال کې وی چې جیولوجستان یې د ځمکې لاندی تکتونیکی فعالیت بولی. د دغو حرکتونو له کبله کیدلای شی ځینې طبقې ماتې شی چې د ماتیدو له امله یې زلزلې منځته راځی. د ثبت شوو زلزلو ډیره برخه ددغه ډول څخه ده. هغه زلزله چې د روان کال د اپریل په میاشت د ایران په جنوب کې پیښه شوه، د ماهرانو په نظر د « عربیا » او « ایورواسیا » په نومونو د دوو تکتونکی پلیټونو (کتلو) د ټکر له مخی منځته راغلې ده چې د عربیا کتله په کال کې د څو سانتی مترو په چټکتیا د شمال په لور په حرکت کې وه.




(دریم انځور)

زلزلې د بیلابیلو ناخوالو سره تړلې وی. د غرو د لمنو څخه ځینی برخی را ښوئیږی او کبنتنیو سیمو ته زیانونه اوروی، د غرونو په لوړو برخو کې په زیاته پیمانه پرتې واوری تحریکوی څو کښتو سیمو ته را وښوئیږی او د برف کوچ په بڼه ستری ناخوالی پیښوی، شدید توپانونه منځته راولی، ساحلی سیمې ورانوی او ان د اورلګیدنی لامل ګرځی، اوبو رسونی شبکو ته تاوان اړوی، پلونه ورانوی او کورونه نړوی. برسیره پر دی تولو زلزلې د بلې ایزو ناروغیو لامل کیږی او د خوراکی او اړتیا وړ توکو کمښت منځته راولی. د سانفرانسیسکو په مشهوره زلزله کې اکثره زیانونه د همدا ډول ناخوالو څخه منځته راغله. هغه زلزله چې څو کاله وړاندی په ایران کې پیښه شوه، له کبله یې ۲۸۰۰۰ کسان یې په مرګ محکوم کړل شوه.

## ۳ ـ د سونامی خطرونه او لاملونه یې:

**سونامی** Tsunami چې په انګریزی Tidal waves هم ورته وایی، یوه طبعی سیمه ایزه پدیده چې دسمندری زلزلو، تر سمندر لاندی اتشفشانو او ورته فعالیتونو څخه را پیښیږی. دا دسمندر په اوبو کې هغه ستر موجونه (څپې ) دی چې هم ډیر لوړوالی لری او هم پراخه سیمه نیسی. دا موجونه چې معمولا په سمندر کې ساحل ته نژدی د زلزلو یا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

تر اوبو لاندی د کلکو طبقو د ماتیدو له کبله منځته راځی چی اوبه یی توپانی کیږی، تر سلو کیلومترو پوری پراخه سیمه رانغاړی، چټکتیا یی د ۶۰۰ څخه تر ۸۰۰ کیلومترو پوری رسیږی.

که څه هم زلزله په یوه محدوده ساحه د ډیر کم وخت د پاره دوام کوی، خو له کبله منځته راغلی د سونامی موجونه بیا کولای شی په زرګونوکیلومتره په سمندر کی مخته ولاړ شی او تر زلزلی وروسته هم ډیر ساعتونه دوام ومومی او په ساحلی برخو کی پراخی تخریب کړی (دریم انځور). د بیلګی په توګه په ۱۷۸۸ زیږد کال د ۱۸ مترو په لوړوالی د سونامی څپو په پرتګال کی د لزبون پر ښار یرغل وکړ او وسیدونکی یی د مرګ کندی ته وسپارل. د سونامی بل مرګونی یرغل په ۲۰۰۴ کال د اندونیزیا کی و سوماترا ته نژدی منځته راغی ، ستری ویرانی یی پیښی کړی او نژدی ۱۰۰۰۰۰ سل زره کسه یی په جنوبی اسیا کی په مرګ محکوم کړل.



(څلورم انځور)




(پنځم انځور)

د احصاییی له مخی هر کال تر پنځه سوه زره پوری زلزلی منځته راځی خو یوازی سل زره یی د احساسیدو وړ دی .

لکه څنګه چی مو وویل اکثره زلزلی د ځمکی په دننه کی د تکتونیکی خوزښتونو لامله منځته راځی خو ځینی زلزلی هم شته چی د ځمکی پر مخی د انسانانو د یولړ فعالیتونو له منځته راځی له د لویو بندونو جوړول ، ژوری کیدنی ، ژورو ځاګانو ته د ډبرو سکارو او نفتو په استخراج کی د ځینو مایعاتو تزریق کول او نور. بیلګه: په ۲۰۰۸ زیږد کال د چین هیواد د سیچوان په ولایت کی مرګونی زلزله چی د ۲۲۷۶۹ تنو د مرګ لامل شوه، ویل کیږی په هغه سیمه کی د یوه ستر بند د جوړولو له کبله منځته راغلی وه. په نړی زلزله زیږوونکی سیمی په ( پنځم انځور ) کی ښودل شویدی.

<u>۴ ـ پر ځمکه د آسمانی کاڼو د را لویدو خطرونه:</u>

آسمانی کاڼی Asteroids دا هغه کاڼی دی چی د مریخ او ژوپیتر دسیاری تر منځ مدار کی « د استروئیدی کمربند » پنامه یو مدار جوړوی. استروئیدونه پر دغه د لمر پر شاوخوا د ۳ څخه تر ۶ کالو پوری ټاکلی دوره کی د لمر پر خواوشا را ګرځی (پنځم انځو). ددی کاڼو لویوالی د ۱۰۰۰ کیلومترو څخه نیولی بیا تر ۱۰ مترو په لږوالی رسیږی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

ددوی ټوله کتله د سپوږمۍ نه ۲۰ برابره کمه ده. شمیر یې په نوموړی کمربند کې لږ تر لږه یوه میلیون ته رسیږی. دا استرئیدونه د وړوکو سیارو minor planets پنامه هم یادوی.

د استروئیدونو له ډلې نه یو شمیر چې له خپل مداره ووځی، د ځمکې مدار ته را داخل او پر ځمکه ولویږی، د متورایټ پنامه یادیږی. د ځیرنو له مخې ۵۰۰۰۰۰ (نیم میلیون) کاله وړاندی د اریزونا په دښتو کې د ۲۵۰ زرو ټنو په وزن یو متورایټ د ځمکې برخوا راغی او هلته یې د لویدلو په ځای کې د میتیور کراتر meteor crater پنامه یوه ستره کنده جوړه کړه چې دوه عشاریه یو کیلومتر قطر لری. د میتورایټ په ترکیب کې اوسپنه او نیکل زیاته برخه لری. دا متورایټ د نژدی ۵۰ مترو په پسور او د څو سوه زرو ټنو په وزن، په ثانیه کې د ۱۶ کیلومترو په چټکتیا ځمکې را رسیدلی دی چې انرژی یې ۲۰ میګا ټنه TNT وه. پر ځمکه یې د دومره لویې ژوری په جوړیدو سره نژدی ۱۷۵ میلیونه ټنه ډبرې بیځایه کړی. پخپله متورایټ پرځمکه باندی د لګیدو سره یا ذوب شوی او یا هم په بخار تبدیل شویدی.




(شپږم انځور)




په ۲۰۰۸ کال یو بل میتورایټ د سائیبریا په فضا کې د ځمکې د مخ څخه د ۸ کیلومترو په لوړوالی کې و چاودید، تر ۳۰ کیلومتری پوری یې سیمی ته زیان واړاوه او ۸۲۵ مربع میل ساحه کې یې ځنګلونه له منځه یووړه. دا ډول استروئیدونه د مریخ د مدار څخه دباندی په میلینونو شتون لری. د تصادف له مخې د نوموړی میتورایټ د چاودنې له وخت نه څو ساعته وړاندی یو بل استروئید د ۱۳۰ فوټ په قطر د ځمکې له څنګ نه د ۱۷۰۰۰ میلو په لوړوالی تیر شو. ویل کیږی چې په یوه وخت کې ددغو دوو پیښو منځته راتلل نه باید د بد فال په ډول وګڼل شی.

د ۲۰۱۳ کال د فیبروری په ۱۵ نیټه د روسیې د اورال په سیمه کې د ځمکې د اتموسفیر د ستراتوسفیر stratosphere په لایه (قشر) د چیلیابینسک د ښار په فضا کې یو میتورایټ چې د ځمکې په را روان وو، وچاودید، پر ځمکه یې د کورونو نژدی ۲۰۰۰ کړکیو ته زیا ورساوه او ۱۲۰۰ تنه یې ژوبل کړه. ددغه میتورایټ وزن ۱۰۰۰۰ لس زره ټنه، قطر یې ۱۷ متره، چټکتیا یې په یوه ساعت کې ۴۰۰۰۰ میله او د ځمکې د سطحې څخه د نژدی ۱۵ میلو په لوړوالی و چاودید او انرژی یې د امریکا وهغه اټمی بم نژدی ۴۰ برابره وه چې پر یوریشیما باندی واچول شو.

په ۱۹۷۹ زیږد کال د اړوندو پوهانو دوو مستقلو ګروپونو یو لړ ځیرنی تر سره او په پایله کې یې دی نتیجی ته ورسیدل چې د ۶۰ څخه تر ۶۵ میلیون کاله وړاندی پر ځمکه باندی د یوه ستر میتورایټ د را لوید له کبله د ژوند چاپیریال دومره بدلون وموند چې د ځمکې د مخ ټول دیناز اور حیوانان له منځه ولاړل. پدی وخت کې یو داسی میتورایټ هم د لمریز نظام څخه را لویدلی چې په ثانیه کې د ۵۰ کیلومترو په کچه چټکتیا (د نور د سرعت شپږمه برخه) درلوده او کتله یې یو زر ټنو ته رسیدل. ددی میتورایټ د چاودنې څخه ۱۰۰۰۰۰ میګاټنه TNT انرژی منځته راغلی چې د ټولو هغو اټمی بمونو د انرژی زر برابره ده کوم چې تر اوسه پوری د انسانانو لخوا ازمویل شویدی. دغه ټوله انرژی ددی دپاره بسنه نه کوی چې د دیناز اور پشان د سترو حیواناتو ټول نسل د ځمکې له مخه ورک کړی .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

ددغه کار د پاره لږ تر لږه د یوه میلیون میګا ټن TNT په کچه انرژی پکار ده. د دومره انرژئ پخاطر باید د میتورایټ کتله ۳۲ زره میلیون ټنه وی. کیدلای شی په دومره لویوالی باندی یو میتورایټ په سمندر کی لویدلی وی چی له کبله منځته راغلی موجونو ټول سمندر نیولی، دتصور نه زیاته انرژی یی تولید کړی وی، د لویدلو په ځای کی یی د سمندر اوبه د ۱۶۰۰۰ مکعب کیلومتره په اندازه تبخیر کړی او لویه ژوره یی د سمندر په تل کی منځته راوستی وی. پدغه کچه د اوبو بخارونه کولای شی زورور بارانونه و اوروی او یا یی دومره اوریځی منځته راوستی وی چی د څه مودی د پاره د لمر د شعاعو مخه بیخی ونیسی. پدغسی حالت کی د ځمکی ټوله سطح په واورو پوښل کیږی. دا هم کیدلای شی چی د داسی میتورایټ د لویدو د انرژی څخه ډیر ګرم ګلوله ډوله ستونونه منځته راغلی او اتموسفیر ته پورته شوی او د اوزون قشر یی خراب کړی وی. دغه دوه لاملونه چی یو یی د اوریځی څخه د تیاری غوړیدل او بل یی د اوزون خرابیدل دی، بسنه کوی چی د دایناژاور په ګډون د ځمکی د مخ ټول ژوندی موجودات له منځه ولاړ شی.

د دویمی برخی پای

پاته برخه مه هیروی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ